# لنډيز او خلاصه

افغانستان په نړۍ يو له فاسدو هېوادونو څخه شمېل کيږي.(1) سره له دې چې پر افغان حکومت د نړيوالې ټولنې له خوا سخت فشار دی، چې ددغې ستونزې ريښې وباسي ، خود فساد د مخنيوي په تړاو د خلکو په انګيرنه کې ډېر لږ ښه والی ښکاري.دفساد په اړه د نړيوالې ټولنې انديښنې 2دا باور پياوړی کوي، چې اداري فساد کيدای شي په هېواد کې دولتي بنسټونه او امنيت کمزوری او له ګواښ سره يې مخا مخ کړي.3 د امنيتي ليږد د زياتيدو او په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستانه د نړيوالو ځواکونو د وتلو په لړ کې، داسې انديښنې دي چې په پراخه کچه د اداري فساد شتون کولی شي، د افغانستان د راتلونکې په اړوند شکونه لا زيات کړي او دخپلو خلکو د خونديتوب او امنيت د ساتلو په اړه د افغان حکومت او امنيتي ځواکونو د وړتياوو په اړه هم شکونه پياوړي کړي . افغان دولت بايد د رسمي ميکانيزمونو لکه قوانينُ ميثاقونه او ځانګړو نهادونو له لارې د فساد د لمنځه وړلو لپاره کوښښ وکړي.

دغه رپوټ د روڼتيا څار سازمان د دريمې ملي سروې خلاصه ده چې د فساد په تړاو د افغانانو د تجربو او انګيرنې په اړه برا بر شوی ، له دې سره سره فساد په افغانستان کې يوه عامه مساله ګرځيدلې ،خو په سروې ګانو او څيړنو کې د افغانستان د دغې مروجې مهمې ستونزې (اداري فساد )پر موضوع پوره پام نه دی شوی .دغه ارزونه د افغانستان د روڼتيا د څار اداري د سروې ګانو دوام دی چې لومړی سروې په ۲۰۰۷ کال کې او دوېم يې په ۲۰۱۰ کال کې نشر شوې. په دې توګه اوسنۍ ارزونه ديوې پنځه کلنې دورې پوره بهير ښيي او همدارنګه په افغانستان کې د فساد په اړه يو ډېر ژور انځوروړاندې کوي او د فساد په تړاو د افغانانو تجربې تحليلوي .

دغه سروې يا څيړنه په اداري فساد لکه بډې ور کول ، په کارونوکې خنډ جوړول او خپلوي يا قوم پالنه را څرخي .
اداري فساد د ټولنې په ډېرو وګړو اغيز کړی او په کافي ډېروخلکوېې نيغ اغيز لرلی دی . د لويو فسادونو ارزول لکه د (سيا سي فساد اوناوړه ګټې اخيستنې مسايل) دځو دلايلو له مخې ددغې ارزونې په چوکاټ کې نه دي را غلي . اول : ځکه چې دغه ډول سيا سي فساد کيدای شي په منظمه توګه او يا په مستقيم ډول د عامو خلکو پر ژوند اغيز ونکړي .دويم د لوی فساد مسايل ښه نه دي څيړل شوي نووړاندې تردې چې دغه ډول مسايل په ملي کچې په عمومي سروې ګانو کې خپاره يا په ډاګه شي ، پياوړې او د اوچتې کچې ارزونې يا څيړنې ته اړتيا لري .

د سروې موندنې په درېو برخو کې وړاندې شويدي .اوله برخه په هېوادکې د اداري فساد په اړه عمومي تصوير وړاندې کوي . دوېمه برخه د فساد په اړه داشخاصو، کورنيو او ادارو د کار کونکو په تجربو او انګيرنو بحث کوي . دريم د کورونو او ځمکې په تړاومسلو کې بيا فساد په ۲ برخو پو ليسو او عدليې او قضايي ادارو کې په تفصيل سره جزييات وړاندې کوي او ترڅيړنې لاندې نيول شويدي.

---

۱ – د نړيوال شفافيت اداري ، افغانستان ته له ۱۰۰ څخه ۸ نمبرې ور کړي، چې په دې توګه، د نړۍ د فاسدو هېوادونو په کتار کې راغلی . د فساد ددرک شاخص (The Corruption Perception Index) هېوادونه په سيا ستوالو او دولتي چارواکو کې د فساد د شته والي له اړخه درجه بندي کوي . د هر هېواد امتيازونه ، په دولتي سکټور کې د فساد د کچې له درکه له صفر تر ۱۰۰ پورې اندازه کې ښوول کيږي ، چې صفر په دې مانا ده چې په دغه هېواد کې ډېر زيات مالي فساد شتون لري او ۱۰۰ مکبرې دا ښيي چې په دغه هېواد کې مالي فساد کم دی . http://cpi.transparency.org/cpi2012/results

۲ - د شخصي او غير قانوني ګټو لپاره له واک څخه د نا سمې ګټې اخيستنې په مانا بلل شوی .

۳ - پر دولت جوړونې د فساد د اغيزو د بحث لپآره لطفا لاندې ادرس ته مراجعه وکړئ.http://www.oecd.org/dac/governance-development/45019804.pdf

## د څېړنې څرنګوالی یا څېړندود

د ۲۰۱۱ کال په سپټمبر میاشت کې، د افغانستان د روڼتیا دڅار اداري له خوا همدغه درېمه څوارخیزه سروې ترسره او معلومات يې را غونډ شول . د معلوماتو د را ټولو لو چارې، د ۲۰۱۲ کال تر لومړیو پورې دوام وکړ او د سروې ارزونه د ۲۰۱۲ کال په لړکې ترسره شوه . په دغه سروې کې، له ۷۵۶۰ کسانو سره مرکې شوي چې نیمایي يې نارینه او نیمايي يې ښځې دي . ځواب ور کونکي، د افغانستان له ټولو ۳۴ ولایتونو غوره شوي دي . د هر ولایت ځواب ور کوونکي یا مرکه شوي، د همغه ولایت د نفوسو په تناسب غوره شوي ،خوله ۱۹ کوچني ولایتونو څخه په قصدي ډول پر ټاکل شوې بیلګې زیات مرکه کوونکي غوره شول . له هر ولایت څخه د غوره شویو کسانو دلست، شمېر او تجزیې لپاره لطفا د کرنلارې برخې ته مراجعه وکړئ. د ځوابونو څلورمه برخه له ښاري سیمو را اخیستل شوي ، په داسې حال کې چې پاتې درې نورې برخې يې له کلیوالي لیرې پرتو سیمو را غونډ شوي دي او موخه داده چې د افغانستان د وګړپيژندني انډول یا ډیمو ګرافي پکې پوره مراعات شي .دغه بیلګه وروسته د لیرې پرتو او ښارونو ته څیرمه کلیو ترمنځ ویشل شوې .
په دغې سروې کې د عمر ، جنسیت ، مدني حالت، علمیت یا د زده کړې د کچې ، عایداتو، لوست، او نژاد له اړخه تنوع په پام کې نیول شوی.د نمونې یا بیلګې اخیستو ډول او طبقه بندي تصادفي وه. پر دې سر بېره پر ټولنې د ډېر اغیز لرونکي قشر لکه دیني عالمان او قومي مشرانو سره، په ډېرو سیمو کې مرکې شویدي چې د وکړو ددغې ځانګړې ډلې نظر هم واخیستل شي .

هره سروې کیدای شي له یوې خوا اغیزمنه شي ، او دا سروې هم ترې مثتثنی نه ده . داسې یو امکان شته چې پر دغې سروې هم د تایید شوي اړخ له خوا اغیز شوی وي . دغه تایید شوی اړخ هغه حالت ته ویل کېږي چې خلک له هغو معلوماتو ملاتړ وکړي چې ددوی له تمې سره برا بر وي او یا په تصادفي ډول دوی وهڅول شي چې معلومات د خپلې خوښې سره سم چې دوی پرې باورلري تفسیر کړي. په دې توګه کېدای شي دفساد په اړه دځواب ور کونکو تجربې د پیښیدو پرتله کم یا ډېرې رپوټ شوی وي .

بېلابېل والی یو بل دلیل لومړنی اغیزې دي . سره له دې چې سروې کونکو ته سپارښتنه شوې چې پرانیستو پوښتنو ته د خلکوورکړي ځوابونه ونه لولي چې سروې اغیزمنه نشي ، ځکه چې کیدای شي ځواب ور کونکو غوښتي وي چې د ځوابونو له اوږده لست څخه یوازې څو ځوابونو غوره کړي او ممکن لومړنۍ اغیزې پردوی وي چې په بشپړه توګه يې نشو ردولای .

ددې لپاره چې دمعلوماتو باوریا اعتبار ښه ډاډمن او پیاوړی شي ،داسې پوښتنې په سروې کې شاملې شوي چې د یوې موضوع بیلا بیل شاخصونه اندازه کوي او ددغه ډول پوښتنو ځوابونه دقیق ارزول شویدي . په دغه ډول تحلیلي بحث شوی او د موندنو په اړونده برخه کې يې انعکاس موندلی .

## د ۲۰۱۲ کال د سروې مهمې موندنې

دغه سروې د فساد مختلف ډولونه په ډاګه کوي او را سپړي، لکه بډې ور کول، عامه خدماتو ته د لاس رسي په موخه د کمیشن ورکړه یا د کمیشن کارانو کارونه ، دمرستو تبادله یا معامله، چې که ته دا وکړې، زه به هغه درته وکړم،خپلوي پالل ، دنژادي، قومي، شخصي او کورنۍ اړیکوپالل، په دغې سروې کې ارزول شویده. سره له دې چې په ۲۰۱۲ کال کې په شخصي توګه د فساد کچه د وړم کال، پرتله را ټیټه شوې( له ۲۳ فیصدو څخه په ۲۰۱۰ کال کې ۱۸ فیصدو ته په ۲۰۱۲ کال کې) خو ددغې سروې موندنې ښیي چې فساد لا هم د هېواد له درېو لويو مهمو ستونزو څخه یوه ده. په بډو کې دور کړل شویو پیسو کچه له ۲۰۱۰ کال را هیسې ۱۶ سلنه پورته شوې. دفساد په اړه د کورنیو د تجربو او په پولیسو او عدلي قضایي ادارو کې د فساد د شته والي د درک او انګیرنو ترمنځ لوی توپیر موجود دی . نورې مهمې موندنې داسې اشارې ورکوي او باور را منځ ته کوي چې د فساد شته والی د طالبانو د واک او زور له پراخیدو سره مرسته کوي .له فساد سره د مبارزې په برخه کې اوس تر ټولو ډېر ولسمشر ته هیله کېږي چې یو څه وکړي . داسې برېښي چې نړیوالې ټولنې له فساد سره د مبارزې یا مخنیوي په برخه کې په خپلو ژمنو او ویناوو عمل نه دی کړی .

**لېږد په دغو وختونو کې مهمه مساله ده** ، شاوخوا ۴۲٪ ځواب ور کونکي په دې باور دي چې حکومت ددې وړتیا نه لري چې په بریالیتوب سره د لېږد چارې تر سره کړي . د فساد په اړه دخلکو له پراخو تجربواو انګیرنو سره سره داسې نه ښکاري چې دغه مساله دې د امنیتي واک د بریالي لېږد په اړه څه خاص اغیز ولري .

### د مهمو موندنو فهرست

۱ – سره له د ې چې، په شخصي ډول د فساد په کچه کې کموالی راغلی خو فسادلاهم د افغانانو یو له مهمو اندیښنو څخه دی .

۲ – رشوت ور کول د فساد ډېر عام ډول یا شکل دی او له ۲۰۱۰ کال را هیسې ۱۶ سلنه په مجموعي ډول زیات شوی.

۳ – فساد په لویه کچه او بنسټیز ډول شتون لري او دا باور ډېر دی چې د رشوت په ور کړې سره کار ښه تر سره کېږي.

۴ – فساد د پیسو د ترلاسه کولو په یوې سرچینې بدله شوې.

۵ –پولیسو او عدلي برخې تر ټولو فاسدې اداري شمېرل شوي دي. سره له دې چې د کورنیو د فساد تجربې به دغو برخو کې نژدې ۵ سلنو ته را ټیټه شوې ده.

۶ – فساد کولی شي چې پولیس او محکمو ته لاسرسی محدود کړي.

۷ –سره له دې چې، فساد سم او اخلاقي کار نه بلل کېږي ، خو په ټاکلې اندازه زغمل کېږي .

۸ –قومي ، سیا سي او شخصي اړیکې د اهمیت وړ دي.

۹ – فساد، پر کورنیو یو دروند پېټی دی .
۱۰ – فساد د دولت مشروعیت کمزوری کوی ، شخړوته مرسته کوي او کورني اختلافاتوته لمنه وهي.

۱۱ – له فساد سره مبارزه : دخلکو هیلې ډېرې اوچتې دي ،خو دوی د حکومت کړنې کمزوري ګڼي.

۱۲ – نړیواله ټولنه، له فساد سره د مبارزې په برخه کې د یوه متحد په توګه نه ښکاري .

۱۳ – له اداري فساد سره د مقاومت شخصي هڅې، په نسبي شکل قوي پاتې دی.

۱۴ – د فساد شته والی او په اړه یي د خلکو انګیرنې د امنیتي لېږد په تړاو فکر نه اغیز منوي .

۱۵ – خلک په دې باور دي چې له فساد سره مبارزه باید د حکومت دتګلارو په لومړیتوب کې ځای ولري.

**۱ – سره له د ې چې، په شخصي ډول د فساد په کچه کې کموالی راغلی خو فسادلاهم د افغانانو یو له مهمو اندېښنو څخه دی .**

د سروې شویو کسانو د خبرو پر بنسټ فساد په افغانستان کې درېمه لویه ستونزه ده . تر ټولو لویه ستونزه نا امني په ګوته شوې( ۵۱٪ ځواب ور کونکو ویلي چې نا امني لویه ستونزه ده . ) . دوهمه لویه ستونزه چې ۱۶ په سلو کې خلکو ورته ګوته نیولې بیکاري ده او اداري فساد درېمه ستونزه یاده شوې چې ۱۳ په سلو کې ځواب ور کونکو ورته اشاره کړې .

د خلکو د اوسیدو سیمو ، ولایتونو او قومي اړخ ته په کتو سر دغه لومړۍ درجه درې مهمې ستونزې توپیر لري . د بیلګې په توګه په داسي حال کې چې نا امني د لومړۍ درجې ستونزې په توګه په ټولو ولایتونو کې پوښتل شویو خلکو په ګوته کړې ، فساد په بغلان ، بلخ ، دایکنډي ، فراه ، فاریاب ، جوزجان ، خوست ، کندوز ، لغمان ، سرپل او ارزګان ولایتونو کې تر بیکارۍ لوړ په دوهمه درجه ستونزو کې په ګوته شو ی.

د ۲۰۱۰ کال پرتله په شخصي توګه د فساد ور کړه کمه شوې . په داسي حال کې چې ۲۰۱۰ کال کې ۲۳ په سلو کې کسانو بډې ور کړې وې خو په ۲۰۱۲ کال کې دا کچه ۱۸ په سلو ته را ټیټه شوې . سره له د ې چې په شخصي توګه په ریښتیني ډول د فساد په برخه کې ښکارکموالی ته اشاره وشوه چې له ۲۳٪ څخه ۱۸٪ ته را ټیټ شوی ،خو د ۲۰۱۰ کال راهیسې د بډو دورکړې کچه او د رشوت ور کونکو په شمیر کې زیاتوالی راغلی.

**۲ – رشوت ور کول د فساد ډېر عام ډول یا شکل دی او له ۲۰۱۰ کال را هیسې ۱۶ سلنه په مجموعي ډول زیات شوی.**

په ۲۰۱۲ کال کې کابو ۶۲ عشاریه ۶ ملیارده افغانۍ( 62582667120 افغانی چې 1254543390 امریکایي ډالر) خلکو په افغانستان کې په رشوت کې ور کړیدي . دغه شمیره ۱۶ سلنه ډېروالی د ۲۰۱۰ کال په پرتله ښیي چې په هغه وخت خلک څه ناڅه ۵۴ ملیارده افغانی رشوت ورکړي وو.

په داسي حال کې چې په ۲۰۱۰ کال کې د سړي په سر د بډو منځنۍ کچه ۳اشاریه ۴ وه ، په ۲۰۱۲ کال کې دغه کچه ۴ اشاریه صفر ۵ ته لوړه شوې . په ۲۰۱۲ ، ۱۷۰۶۴۳ بالغو کسانو رشوت ورکړي چې ۱۰ سلنه زیاتوالی د ۲۰۱۰ په پرتله کې ښیي.

په ۲۰۱۲ کال کې هغو کسانوچې په فساد کې په یوه ډول ښکیل وو چې (د ټولې نمونې ۱۸٪) کښېږي وایي چې فساد په افغانستان کې عام دی. په مجموع کې نارینه تر ښځو ډېرپه فساد کې ښکیل دي . په بله وینا،پر فساد د بوختو ۵۸ ٪ نارینه او ۴۲ په سلو کې ښځې دي.په ټوله کې ۱۵٪ بالغو کسانو په تیرو ۱۲ میاشتو کې لږ تر لږه یو وار رشوت ور کړی چې دا شمیره بیا د ۲۰۱۰ کال پرتله کمه ده ، هغه مهال دغه کچه ۱۴٪ کې وه .

په سروې کې دا رنګه د رشوت و ر کونې کورنی تجربې هم تحلیل شوي . ۲۸ په سلو کې کورنیو له سروې دمخه ۱۲ میاشتو کې په یوه ډول رشوت تجربه کړی .هغه کورنی چې عاید یې له ۳۰۰۰۰ کم وو ډېر یې ، نسبت هغو ته چې عاید یې ۳۰ زره او یا تر دې زیات وو د بډو د ور کړې له درکه اغیزمنې وې یانې دوی ډېر د رشوت ور کولو له ستونزې سره مخامخ وو. بډایو کورنیو د عامه خدماتو د تر لاسه کولو پر مهال تر ډېره د رشوت د ور کړې پرځای په خپلو ټولنیزو اړیکو لکه له کورنیو اړیکو او د دولت له لوړ پوړو چارو واکو سره په پیژندګلوي تکیه درلوده او کټه یې ترې پورته کړې.

هغو کورنیو چې پولیسو ته یې د هر دلیل له مخې بډې ور کړیدي(۱۰ سلنه له نموني څخه) امکان لري چې همدوی په محکمو کې هم تر ډېره بډې ور کړي وي . کابو ٪۳۵ هغو کورنیو چې پولیسو ته یې رشوت ور کړی په تیرو ۱۲ میاشتو کې یې محکمو ته هم رشوت ور کړی .

**۳ - فساد په لویه کچه بنسټیز شوی او داسې پراخ باور دی چې بډې د کارونو په ښو تر سره کیدو کې رول لري .**

سره له دې چې د واسطه کونکو کا رول کم شوي ، خو له ۲۰۱۰ کال را وروسته هم کمیشن کاران تر اوسه مهم رول ترسره کوي . د ۲۰۱۲ کال په سروې کې راغلي چې ۳۱ په سلو کې هغو ځواب ور کونکو کمیشن کاران کارولي چې د رشوت ور کولو په معامله کې ښکیل وو . په ۲۰۱۰ کال کې دغه کچه ٪۴۴ وه چې تر اوسه په ټولو دریو تر سره شویو سروې ګانو کې اوچته اندازه ده .

ښاري اوسیدونکو د کلیوالي اوسیدونکو په پرتله ډېر کمیشن کاران کارولي دي . همدارنګه نارینه وو د ښځو پرتله د کمیشن کارانو خدمات ډېر کارولي یاني (٪۵۸ نارینه او ٪۴۲ په سلو کې مېرمنو د خپلو کارونو د ترسره کولو لپاره له کمیشن کارانو ګټه اخیستې ). تر ډېره لوستي کسان غواړي چې د فاسدو معاملو د تر سره کولو لپاره کمیشن کاران و کاروي . خو له دې سره سره هیڅ داسې ارقام نشته چې د جنسیت اوپه تیرو ۱۲ میاشتو کې د دولتي خدماتو د ترلاسه کولو د شمیرې ترمنځ د اړیکو څرګندونه وکړي .

د ځواب ور کونکو لویه برخه کسان د میز لاندې معاملې په تر سره کولو پراخ باور لري . د رشوت د ور کړې احتمال به هغه مهال لا زیات پراخ شي چې ځواب ور کونکي په لویه کچه په دې باور وي چې دوی د رشوت د ور کړې په پایله یا بدل کې خدمات تر لاسه کولای شي . له هغو ځواب ور کونکو پرته چې بډې یې ور کړي ، کابو ٪۳۱ ویلي چې دوی په رشوت ډېر باور لري ، او نورو ٪۳۲ چې دوی هم پرې باور لاره او ویل یې هغه رشوت چې دوی ور کړی ددوی کارونه به پرې تر سره شي . (٪۲۷ نورو خلکو د رشوت په بدیلو ګټو کم باورلاره ). یوازې ٪۱۰ په سلو کې ځواب ور کونکو ویلي دوی په دې باور نه لري هغه پیسې چې دوی یې په رشوت کې ور کوي دوی ته به ګټه ورسوي .. د رشوت پر اغیزو د باور د لرلو په برخه کې د عمر ، جنس اود اوسیدود سیمې ( ښار یا کلي) له اړخه کوم توپیر نه لیدل کیږي .

د (۲۵۰۰ افغانیو یا تردې کم ) رشوت د اغیزو د کچې په تړاو ځواب ور کونکوکم باور ښوولی . او همدارنګه مرکه شویو خلکو ویلي هغه کسان چې ۲۰ زره افغانۍ او یا تر دې زیات رشوت ور کوي دهغو د اغیز و په اړه زیات باور لري د منځنۍ کچې د رشوت ور کونکو تمه د بډو د اغیزې په اړه د ځواب ور کونکو تر منځ تو پیر لاره .

**۴ - فساد د پیسو د ترلاسه کولو په یوه سرچینه بدله شوې.**
په ۲۰۱۲ کال کې ۵۵ سلنه او په ۲۰۱۰ کال کې ۴۷ سلنه ټول د فساد ډک معاملې د پیسو را کړه ور کړه وه . دا د پیسو د موندلو په یوې سرچینه د فساد د بدلیدو ښکاره نښنه ده، خودا په داسې حال کې ده چې له پیسو پرته دفساد شتون په دوديز ډول په افغانستان کې ډېر مروج وو .په هر حال له ۲۰۰۱ کال را هیسې چې افغانستان ته د پیسو سیلاب را مات شو او د حساب کتاب د ورکړې اغیزمنه تګلاره نه وه موجوده پردې سربیره د پیسو د اغیزمن لګښت وړتیا کمه وه. رشوت د هېواد په ټولو سکتورونو یا برخو کې د ویروس په ډول خپور شو . پیسې یا په خپلواکه توګه په رشوت کې وکارول شوې او یا د واسطې په توګه ور کړل شوې . ٪۴۳ ځواب ور کونکو د ۲۰۱۰ کال په سروې کې ویلي وو چې پیسې د فساد ډېر مهم ډول وو . په داسې حال کې چې په ۲۰۰۷ کال کې ٪۴۸ خلکو دغه ډول نظر ور کړی وو . په ۲۰۱۲ کال کې د رشوت کچه بیا هم د ۲۰۰۷ او ۲۰۱۰ کال د موندنو په اندازه وه .

**۵ –پولیسو او عدلي برخي تر ټولو فاسدې اداري شمېرل شوي دي. سره له دې چې د کورنيو د فساد تجربې په دغو برخو کې نژدې ۵ سلنو ته را ټيټه شوې ده.**

په شميرو کې له ډېر کم توپير سره سره دغې چارې له ۲۰۰۷ کال را هيسې توپيرنه دی کړی. د سروې مرکه کونکو ويلي چې محاکم په ۲۹٪ )، د کورنيو چارو وزارت د ۲۶٪ او د عدليې وزارت هم په۲۶٪ تر ټولو ډېر په فساد ککړ عامه سکټورونه دي . په داسې حال کې چې د کورنيو د فساد تجربې پوليسو او محاکمو سره ۱۰ سلنه ( ۱۴ سلنه قضا سره په ۲۰۱۰ کا کې) او ۹ سلنه پوليسو سره ( ۱۳ سلنه پوليسو سره په ۲۰۱۰ کال کې) را ټيټه شوې. معارف وزارت فساد سره د مبارزې لړی بنه شوی او (۱ عشاريه ۳ سلنه د مجموعي نمونې څخه)په سرکې کرار لري.

**۶ - فساد پوليسو او عدلي ادارو ته لاس رسی محدودوي او يا يې محدودوي.**

سره له دې چې يوازې ۹٪ ځواب ور کونکو ويلي چې ددوی کورنۍ په عدلي او قضايي برخو کې له فساد سره مخا مخ شوي . خو ورسره خواکې ۳۶ په سلو کې ځواب ور کونکو ويلي چې په محکمو کې د فساد شتون ددوی په کورنيو منفي اغيز کړی . د انفرادي فساد درا کړې ور کړې او د فساد د درک يا انګيرنې د تصويرتر منځ تو پيرکيدای شي دا امکان په ډاګه کړې چې د فساد منفي اغيز تر هغو کورنيو ور واوړي چې فساد يې تجربه کړی .

د ځواب ور کونکو ۳۲٪ ويلي سره له دې چې ددوی کورنۍ پوليسو ته د بډو ور کولو له کبله له ستونزو کړيدې ، د فساد له کبله پوليسو ته د لاس رسي په برخه کې دوی ته خنډونه پيښ شوی وو. په دغه برخه کې هم د ۲۰۱۰ کال پرتله لږ زياتوالی راغلی . هغه مهال دغه کچه ۲۶٪ کې وه . د هېواد ځينې ډلې- نا لوستي او د کلي خلک ژر د فساد قرباني کېږي. دې چې ژرباور کوي . د سروې د ځواب ور کونکو ډېرو(۷۴٪ ) چې د فساد په را کړه ور کړه ، هغه هم د پوليسو په برخه کې ښکيل وو د کليوالي سيمو خلک دي. او شاوخوا ۴۹٪ يې نا لوستي خلک وو.

په محکمو کې د فساد د شته والي تصور کيدای شي ددغې سروې ځواب ور کونکي مجبور کړي چې په قضايي بنستونو کې د خدماتو د ترلاسه کولو له هيلو تير شي . ۲۰٪ ځواب ور کونکو ويلي چې فساد دوی په قضايي ادارو کې د خدماتو له تر لاسه کولو بې برخي کوي .

**۷ –سره له دې چې، فساد سم او اخلاقي کار نه بلل کېږي ، خو په ټاکلې اندازه زغمل کېږي .**

د ملکي خدماتو ما مورين په کارونو کې غير ضروري ستونزې را منځ ته کوي چې په غير مستقيم ډول درشوت غوښتنې ته لاره هواروي. دغه ستونزه (۶۳٪)خلکو په ګوته کړې ده ، ور پسې له بې وزلو د پيسو د غوښتنې کچه ۵۹٪ ده او په مستقيم ډول بيا د پيسو دغوښتنې کچه ۵۸٪ کې ده .

هغه ډېر ځواب ور کونکي چې د ملکي خدماتو د مامورينو له خوا د بډو له غوښتنې سره مخا مخ شوي وايي چې دوی د خپلو کمو امتيازاتو يا تنخوا خبره ورته کړې .

شاوخوا ۱۱٪ مرکه کونکو ويلي چې د يو ملکي مامور لپاره دا د منلو وړ دی چې رشوت واخلي، په داسې حال کې چې معاش يې کم وي. ۱۱ سلنه نور ويلي چې د يو ملکي مامور لپاره د خلکو د ماليې د کموالي لپاره رشوت اخيستل د منلو وړ دی.

دا درک چې ګنې د ملکي خدماتو مامورين غير ضروري ستونزې ددې لپاره جوړوي چې بډو ته لاره هواره کړي او يا په خپل لازم او معين وخت کې رسمي کارونه سم نه تر سره کوي يو څه تر پخوا کم شوی .( په ۲۰۰۷ کال کې۱۳٪ ، په ۲۰۱۰ کال کې ۱۴٪ او په ۲۰۱۲ کال کې ۱۰ په سلو کې خلکو دغه ډول نظر لاره)

شاوخوا ۹۶ په سلو کې ځواب ور کونکو په ډاګه کړې چې دوی د رشوت د ور کړې پرمهال د ګناه احساس کوي ، خو په ۲۰۱۰ کال کې ۹۰٪ خلکو دغه خبره کړې وه . همدارنګه ۹۱٪ ځواب ورکونکو ويلي چې بډې اخيستونکی کس په ټولنه او په خپل ټولنيز چاپيريال کې د خلکو ښه نه ايسي او کرکه ترې لري .په ۲۰۰۷ کال کې ۸۳ په سلو کې خلکو د بډې اخيستونکي په اړه دغه ډول قوي منفي نظر لاره .

سره له دې چې د سروې د ځواب ور کونکو لويه برخه وايي دوی د ملکي خدماتو د مامورينو نا سم چال چلند نشي زغملی ، خو ځواب ور کونکو ويلي که يې مالي ګټې پکې نغښتې وي د بيلګې په توګه له ماليې تيښته او يا د ماليې د کميدو په تړاو مسايلو کې دوی ډېر کله د فساد په اړه نرم دريځ غوره کوي .چې دا په خپله ښيي چې په مجموع کې ځواب ور کونکو دولتي ګټې په خپلو شخصي ګټو لوړې نه دي ګڼلي .

**۸ –قومي ، سيا سي او شخصي اړيکي د اهميت وړ دي.**

ددولتي خدماتو د تر لاسه کولو لپاره د قومي او کورنی اړيکوپالل اغيزمن دي .

له دې کبله د ټولنيزو ، قومي او نژادي اړيکوپالل د فساد تر ټولو عام چينل په ګوته شوی .داسې موندل شوې چې په مجموع کې ۳۷٪ کورنيو د فساد په را کړه ور کړه کې په قومي او نژادي اړيکو تکيه کړې. په ۲۰۱۰ کال کې دغه کچه ۳۹٪ کې وه، په داسې حال کې چې په ۲۰۰۷ کال کې يوازې ۳۰ په سلو کې خلکو ويلي ووچې د فساد لپاره قومي اړيکو ته هم مراجعه شوې يا د هغوی مرسته پکې غوښتل شوې . دا انګيرنه چې ګواکې د قومي اړيکو پالل د فاسدو کړو وړو ډېره عامه مانا ده ددغو کسانو کچه په باميانو کې په ۷۰٪ سره تر ټولو لوړه وه ، په دايکنډي کې ۶۹٪ خلکو او په بغلان کې ۶۶٪ خلکو ورته باور لاره. دا په داسې حال کې ده چې په زابل کې بيا د کورنيو اړيکو پالل د عام فساد کوم مهم ډول نه دی بلل شوی ، په دغه ولايت کې ۱۶ په سلو کې ، په پکتيکا کې ۱۵٪ ، په نيمروز کې ۱۱ او په لوګر کې ۱۰٪ خلکو د کورنيو اړيکو څخه کار اخيستل د فساد په عامه مانا بللی دی .لکه چې ليدل شوي قومي اړيکې قوي دي او په وار وار د نا سمو کارونواو فساد د ترسره کيدو لپاره کارول کېږي . په مقايسوي ډول له سيمه ييزو قومندانانو او فرقييزو يا ګوندي ملګروسره اشنايي او د هغو کارول چې د فساد يو اصلي عامل بلل کېږي له ۲۰۰۷ کال را هيسې پکې د پام وړ کموالی راغلی. په ۲۰۰۷ کال کې ۱۹٪ خلکو د عامه خدماتو څخه د ګټې اخيستو لپاره له سيمه ييزو قومندانانو سره له خپلو اړيکو ګټه پورته کړې وه ، خو په ۲۰۱۰ کال کې دغه شميره ۹٪ وه او په ۲۰۱۲ کې دغه کچه نوره هم را غورځيدلې او ۴٪ خلکو دغه اړيکې د خدماتو د ترلاسه کولو لپاره کارولي دي . دا په افغانستان کې د سيمه ييزو قومندانانو او ګوندي اړيکو دممکنه بې رنګه شوي اغيز ښکارندويي کوي .

**۹ – فساد، پر کورنيو يو دروند پيټی دی .**

کابو۶۲ په سلو کې ځواب ور کونکي چې فساد يې تجربه کړی يا ور سره مخا مخ شوي (د ټولې نموني شاوخوا۱۱٪) په دې باور دي چې ددوی په کورنيو د فساد اغيزې د پام وړ يا فوق العاده ډېرې دي . د ۲۰۰۷ او ۲۰۱۰ کلونو په پرتله په ۲۰۱۲ کال کې، فساد زياتره کورنی بی اخېزمن کړي.په هغه وخت کې ډېر کم ځواب ورکونکي دفساد د منفي اخيز څخه شکايت کړی وو. په ۲۰۱۰ کال کې ۲۰ سلنه هغه خلک چې د سروې دمخه ۱۲ مياشتې مخکې فساد سره مخامخ شوي وو، ويلي وو چې فساد دهغوي پر کورنی ډېر زيات بد تاثير کړی.

په داسې حال کې هغه خلک چې په ۲۰۱۲ کال کې د فساد اخيز په خپلو کورنيو کې يادونه کړې ۲۱ سلنې ته رسيږي. څه ناڅه ۲۳ سلنه ځواب ورکونکي فساد يې تجربه کړې او ويلي چې د هغوی پر کورنې د فساد اخيز په تېرو ۱۲ مياشتو کې په همدغه حالت کې پاتې دی. په داسې حال کې چې ۵۲٪ کسانو ويلي چې په تېرو ۱۲ مياشتو کې د فساد فشار پردوی په همدغه کچه پاتې ده.

هر هغه رشوت چې ۲۵۰۰ افغانی وو ويل کېږي چې پر کورنيو يې منفي اغيز کړی دی. اود سروې ځواب ور کونکو ويلي چې تر دغويادشويو پيسو ډېر رشوت ددوی د کورنيو په مالي وړتياوو فشار راوړی. يانې دوی يې په مالي برخه کې له ستونزو سره مخا مخ کړيدي .

هغه ځواب ور کونکي چې په رشوت کې ډېرې پيسي ور کوي د هغو ځواب ور کونکو پرتله چې وايي د فساد مالي پيټی ددوی په کورنيو زيات شوی ډېر اغيزمن دي . هرڅومره چې د رشوت اندازه ډېريږي په همغه اندازه يې په کورنيو بار ور زياتيږي . د بيلګې په توګه ۷۱ په سلوکې ځواب ور کونکو چې ۲۰ زره افغانی او يا تر دې زياتې يې په رشوت کې ور کړيدي همدارنګه ويلي چې په تيرو ۱۲ مياشتو کې يې ددوی په کورنيو مالي بار يا پيټی زيات شوی .

**۱۰ – فساد د دولت مشروعيت کمزوری کوی ، شخړوته مرسته کوي او کورني اختلافاتوته لمنه وهي.**

موندني ښيي چې د عامه خدماتو په سکتور کې د فساد شته والي د دولت قانونيت زيانمنوي. د بيلګي په توګه کابو ۴۴ په سلو کې ځواب ور کونکو چې په قضايي برخه کې يې فساد تجربه کړی (رشوت يې ور کړی) اوس يې د خپلو شخړو او مسلو د حل لپاره غير دولتي بنسټونو لکه سيمه ييزو کليوالي شورا ګانو، جرګو او د طالبانو محکمو ته مخ و ر اړولی . دا چار ه د طالبانو له شهرت او پياوړتيا سره مرسته کوي.

کابو ۳۹ په سلو کې د سروې ځواب ور کونکي په دې باور دي چې په دولتي ادارو کې د فساد شتون د طالبانو له لا پراخيدو سره مرسته کوي . يو شمير نور په ځانګړې توګه په دې باور دي چې د حکومت په مرکزي ادارو کې د ٪۲۹ فساد، د ولايت او د ولسواليو په دفترونو کې د ٪۲۶ او د محکمو او لويې ځارنوالی په دفترونو کې ٪۱۸ فساد شته والی د طالبانو د واک او نفوذ د پراختيا لپاره اسانتياوې برا بروي .

کابو ٪۳۱ ځواب ور کونکو ويلي چې د فساد د شته والی له کبله ددوی په سيمو کې د کورونو او ځمکو شخړې او لانجې زياتې شويدي . خو د سروې له پوښتن پاڼو څخه دا نه معلوميږي چې رښتيا هم فساد له تاوتريخوالي ډکې شخړې را منځ ته کوي او يا يې زياتې کړي که نه ؟

شاوخوا ۸ په سلو کې کورنيو ويلي چې دوی د کور او ځمکې په لانجولکه د قبالو په بدلولو يا ور کولو، د ماليو په ور کولو او د ځمکو د لانجو په حل کولو کې د رشوت له غوښتني سره مخا مخ شويدي . په دغو برخو کې د فساد شتون خلک دې ته هڅوي چې د خپلو دغه ډول لانجو د حل لپاره غير دولتي مراجعو ته مخه وکړي .

فوق العاده زيات شمير پوښتل شوي (٪۹۴ ) په دې باور دي چې د دولتي چارواکو په ګډون د خلکو يو شمير منظمې ډلې لږ تر لږه د ځمکو په تنظيم ، کاروبار، خرڅولو او ويشلو يو ډول اغيز لري يا پکې ښکيل دي .

له ځواب ور کونکو همدارنګه پوښتنه شوې چې ايا اوريدلي يې دي چې طالبانو دې دفساد پر ضد څرګندونې کړې وي ؟

کابو ٪۳۳ ځواب ور کونکو ويلي دوی اوريدلي چې طالبانو د فساد پر ضد خبرې کړيدي ، خو شاوخوا ۶۷ په سلو کې نورو ځواب ور کونکو بيا ويلي چې دوی د فساد پرضد د طالبانو څرګندونې نه دي اوريدلي .لوستونارينه ښاريانو د نورو ځواب ور کونکو پرتله تر ډيره دا په ډاګه کړې چې د فساد پرضد دوی د طالبانوڅرګندونې اوريدلي . خو له دې سره سره له دغې څيړنې څخه دا نشي په ډاګه کيدای چې ځواب ور کونکو د فساد په تړاو د نړيوالې ټولنې او طالبانو کوم ډول پيغامونه څه ډول اوريدلي ، خو داسې فکر کيږي چې دغه ډول ويناوې يا پيغامونه کيدای شي له بيلا بيلو رسنيو څخه ترلاسه شوی او دغه ډله کسان يې اغيزمن کړي وي .ځکه هغه لوستي نارينه چې په ښاري سيمو کې ژوند کوي د هغو نورو خلکو پرتله چې د افغانستان په کليوالو سيمو کې ژوند کوي رسنيو ته ډېر لاس رسی لري .

**۱۱ – له فساد سره مبارزه : دخلکو هيلې ډېرې اوچتې دي ،خو دوی د حکومت کړنې کمزورې ګڼي.**

داسې باور دی چې ولسمشر حامد کرزی په هېواد کې له فساد سره د مبارزې په برخه کې تر ټولو وړ کس دی . ٪۳۹ کې ځواب ور کونکې په دې باور دې چې ولسمشر حامد کرزی په افغانستان کې د له فساد سره د مبارزې په برخه کې مهم او مناسب کس دی . ولسوالانو، ښاروالانو او واليانو ته په افغانستان کې له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د لږو اغيزمنو کسانوپه سترګه کتل کيږي . يوازې شاوخوا ۲۳ په سلو کې ځواب ور کونکي په دې باور دي چې حکومت له فساد سره د مبارزې په برخه کې کافي کار کړی دی .

**۱۲ – نړيواله ټولنه، له فساد سره د مبارزې په برخه کې د يوه متحد په توګه نه ښکاري .**

له فساد سره د مبارزې په تړاو د نړيوالې ټولنې د هوډ او عمل په اړه د خلکو د نظر تر منځ توپير دی . د سروې د ځواب ور کونکو د پام وړ برخه (٪۳۷) په دې باور ده چې نړيواله ټولنه نه غواړي له اداري فساد سره مبارزه وکړي . خو ٪۲۹ کې نور ځواب ور کونکي په دې باور دي چې نړيواله ټولنه غواړي له اداري فساد سره مبارزه وکړي . پاتې نورو ځواب ور کونکو په دې تړاو هيڅ نه دي ويلي . پر دې سر بيره ٪۳۲ ځواب ور کونکو ويلي چې نړيواله ټولنه له فساد سره د مبارزې په برخه کې له رينښتينو سيمه ييزو چارواکو ملاتړ نکوي . پر نړيوالې ټولنې د باور کموالی شايد هغه انګرينه پياوړې کړي چې وايي نړيواله ټولنه د فساد

پرضد خپل غږ نه اوچتوي . د ځواب ور کونکو لويې برخې (۶۸٪) ويلي چې دوی په افغانستان کې د فساد پرضد د نړيوالې ټولنې د غږ او چټيدل نه دي ليدلي .خو هغه کسان چې وايي دوی اوريدلي چې نړيوالې ټولنې په افغانستا ن کې د فساد پرضد غږ پورته کړی ، هغوی په دې باورهم دي چې نړيواله ټولنه غواړي له فساد سره مبارزه وکړي . همدارنګه د ځواب ور کونکو همدغه ډله تر ډېره په دې اند وه چې نړيوالې ټولنې په سيمه ييزه کچه دصادقو سيمه ييزو چارواکوملاتړ نه کوي .

ورته انګيرنه يا نظر په افغانستان کې د نورو مهمو غاړو يا اړخونو په تړاو هم ليدل کېږي ، لکه ملګرو ملتونو، نړيوالو سازمانونو يا ادارو، رسنيواو مذهبي ادارو هم له فساد سره دمبارزې په برخه کې کافي کړنې نه دي تر سره کړي .

**۱۳ – له اداري فساد سره د مقاومت شخصي هڅې، په نسبی شکل قوي پاتي دی.**

د سروې لوی اکثريت (۹۳٪) ځواب ور کونکو ويلي چې دوی به هغو کسانو ته رايې ورنکړي چې دوی باور کوي په فساد ککړ دي ، او ۶۵٪ ځواب ور کونکو ويلي چې دوی د هغو کمپنيو توليدات نه اخلي چې په فساد کې ښکيل دي . د سروې د پايلو پر بنسټ نارينه ، د ښاري سيمو اوسيدونکي او لوستي ځواب ور کونکي ، د ښځو، بې سواده او کليوالوځواب ور کونکو پرتله ډېرليواله وو چې د هغو کمپنيو له توليداتو سره پريکون يا بايکات وکړي چې په فساد ککړ دي او هغو سيا ستوالو او د ملکي خدماتو مامورينو ته رايې ور نکړي چې په فساد بوخت دي .

**۱۴ - دفساد تجربه او شته والی د لېرد د بهير د ترسره کيدو په انګرنې اغيز نه کوي**

داچې آيا په زياته اندازه فساد، د لېرد بهير اغېزمن کړي، هغه پوښتنه ده چې ډېر بحث ته اړتيا لري. د لېرد پای نژدې دی.

لېږ هغه پروسه ده چې د امنيتي قواوو مسوليت له آيساف ځواکونو څخه د ناټو قواوو په مشرى افغان ملي امنيتي ځواکونوته سپارل کېږي.

کابو ۴۲په سلو کې ځواب ور کونکي په دې باور وو چې حکومت ددې وړتيا نه لري چې له نړيوالې ټولنې څخه افغان امنيتي ځواکونو ته په بريالی توګه د امنيتي مسوليتونود ليرد بهيرتر سره کړي . د بريالي ليږد چاره د سيمې په کچه توپير لري ، لکه د ښاري سيمو خلک د بريالي ليږد په اړه د افغان حکومت په وړتيا ډېر شک لري نسبت د کليوالو سيمو خلکو ته . ۵۱٪ ښاري اوسيدونکي او ۴۰٪ کليوالي اوسيدونکي د لېږد په اړه د حکومت په وړتياوو شک لري.
د هغو ځواب ور کونکو چې دحکومت د بريالي لېږد په چاري باور لري مطلق اکثريت (۹۷٪) يې په دې هم باور لري چې افغان امنيتي ځواکونه په هېواد کې دامنيت دخوندي کولو وړتيا لري . خو هغه ځواب ور کونکي چې د حکومت له خوا د امنيتي لېږد په بريالي ترسره کيدو کم باور لري دوی د منابعو ، وړتياوو ،د مورال کموالی او د فساد شتون په دغه برخه کې لويې ننګونې ګڼي او فکر کوي چې د لېږد بهير به نور هم وځنډوي.خو له دې سره سره په هېواد کې د فساد د خپريدو او يا تجربو په اړه د خلکو درک د بريالي امنيتي لېږد په اړه ددوی پر احساس هيڅ مهم اغيز نه لري.

**۱۵ - هغه کسان چې وايي له فساد سره مبارزه دې د تکلاره په لومړيتوب کې را شي**

کابو ۲۲٪ ځواب ور کونکو ويلي چې فساد دومره لويه ستونزه ده چې حکومت يې ډېر ژر بايد پرضد کلک ګامونه پورته کړي . هغه ځواب ور کونکي چې د اساسي ټولنيزو خدماتو لکه د ګمارنې، روغتيا، اوبو او بريښنا په اړه انديښمن دي تمه لري چې حکومت دې دغه مسلې بايد په خپلو لومړيتوبونو کې ځای کړي . هغه ځواب ور کونکي چې باور کوي عدلي ادارې ،محاکم او د کورنيو چارو وزارت ډېرې په فساد ککړې اداري دي ، پردې ټينګار کوي چې حکومت بايد د فساد پرضد کړنو ته لومړيتوب ور کړي . دلته ددې انګيرنې په اړه چې د فساد شته والی د هېواد لويه ستونزه ده او له دغې لويې ستونزې سره د حکومت د مبارزې د کولو د تمې تر

منځ نژدې اړيکې موجودې دي . کابو ٪۶۰ هغو ځواب ور کونکو(د ټولې نمونې ٪۹) چې ويلي يې دي فساد د هېواد لويه ستونزه ده همدارنګه وايي چې حکومت بايد له فساد سره مبارزه په خپلو لومړيتوبونو کې ځای کړي .

**د سروې د پايلو څخه طرحه شوې وړانديزونه.**

په افغانستان کې د روڼتيا د ځار ټولنه ددې سروې د موندنو او د خپلو پلټنواو ملاتړو چارو پر بنسټ دغه لاندې لارښوونې وړاندې کوي :

- د افغان حکومت لپاره په عدلي او قضايي ادارو او دپوليسو په ادارو کې له فساد سره مبارزه بايد لومړيتوب ولري .د فساد د ور کولو لپاره د يو ه اغيزمنې اجرايي تګلارې د نشتوالي په صورت کې بايد له اداري مجازاتو سره جوخت جنايي سزاوې هم همغږې شي .
- د محاکمو د تر سره کيدو په بهير کې بايد د مدني ټولنو او دعامو خلکو دحضور لپاره هڅې وشي. کله چې مدني ټولنې غواړي په دې برخه کې فعاله ونډه واخلي نو حکومت بايد د محاکمو د تر سره کيدو په بهير کې د مدني ټولنو د غړو د ګډون لپاره اسانتياوې برا برې کړ ي.
- د جزوي فساد د کمولو لپاره د اداري پروسيجرونو يا کړنلارو ساده کول ډېرمهم دي . پيچلې کاري تګلارې او د معلوماتو کموالی ددې لامل کېږي چې کميشن کارانو ته مخه وشي او بدې ورکړل شي .
- حکومتي ادارې بايد عامو خلکو ته د ځانګړو خدماتو د تر لاسه کولو او د هرکار لپاره د اړتيا وړ وخت د يو تقسيم او قات په تړاو لارښوونې يا لارښودې ادارې برا برې کړي .دا بايد داسې يوه لارښوده اداره يا د تيليفون نيغه ليکه وي چې خپلواکه وبريښي او د خلکو باور پرې راشي چې دعامه خدماتوکارونکي و کولی شي د ملکي خدماتو مامورينو ته د رشوت د ور کړې په تړاو رپوټ ور کړي .
- د ځمکو په تړاو مسلو کې فساد په هېواد کې رواج موندلی . حکومت بايد په ځمکو پورې اړوندو مسلو کې د هرې ادارې او هر وزارت رول او مسوليتونه ښه روښانه کړي . د حکومت له خوا د ځمکو د ويشلو او خرڅولو معاملې بايد رڼې او روښانه وي .
- کله چې ځمکې د حکومت له خوا ويشل کېږي افغانان او د مدني ټولنې سازمانونه او ټولنې بايد په دغه تړاو نيول شويو يا نيول کيدونکو اړوندو پلانونو ته لاس رسی ولري ، او د هغو کسانو لست چې د ځمکو د ويش له درکه ورته ګټه رسيږي يانې ځمکه ور کول کېږي بايد عامو خلکو ته روښانه شي .
- حکومت بايد له هغو ادارو څخه د فساد د ور کولو په تړاو روښانه تګلارې او ژمنې وغواړي چې په فساد کې ډېرې ښکيلې بلل کېږي . د نظارت عالي اداره بايد ددغه هڅو ملاتړ وکړي .
- د لوړ پوړو دولتي ما مورينو يا چارواکو د پانګې او عايداتو د ثبتولوپروګرام بايد په ټولو عامو چارواکو يا ما مورينو جبري شي چې فکر کېږي د فساد له مسلې سره ډېر لاس او ګريوان دي . ددغو ما مورينو پانګه او عايدات بايد په منظمه توګه و څارل شي او په دغه برخه کې ټول معلومات دي له خلکو سره شريک کړل شي.
- د څارنې يا نظارت عالي اداره بايد د دولتي ادارو لپآره له فساد سره د مبارزې خپل پروګرامونه درجه بندي کړي او هغو ادارو ته دې لومړيتوب ور کړي چې فساد پکې زيات بلل کېږي او د حکومت قانونيت ته زيان رسوي يا منفي اغيز پرې کوي .
- د فساد تجربې او په دې تړاو د خلکو انګيرنې د افغانستان په بيلا بيلو سيمو کې توپير لري . حکومت بايد هغو سيمو کې پر فساد د غلبې لپاره د خپلو پروګرامونو عملي کيدو ته لومړيتوب ور کړي چې د هېواد خلکو ته داسې بريښي چې فساد دلته ډېره لويه ستونزه ده او يا ډېر خلک پرې اخته دي .

- ډېرشمېر عوامل لکه عمر ، د لوست کچه ، د اوسیدو ځای  او همدارنګه نور د فساد په تجربو او انګیرنې اغیزلري. هغه  تګلارې    چې د فساد د مخنیوي لپاره جوړې شویدي  او یا جوړېږي باید دغه عوامل په پام کې ولري او پربنسټ یې  شته اندیښنو ته ځواب وویل شي.

- دواړه حکومت او مدني ټولنې باید سیمه ییز خلک و  هڅوي چې د تصمیم نیونې چارې و څارې او په کلیواله او د ولسوالۍ په کچه د بودجې د لګښت بهیر  او د وړاندې کیدونکو خدماتو د کیفیت څارنه وکړي . په دغه ډول کارونو کې د سیمه ییزو خلکو ښکېلتیا نه یوازې داچې د فساد په کمیدوکې مرسته کوي ، بلکې همدارنګه د حکومت د قانوني بنسټونو د پراختیا له پیاوړتیا سره هم مرسته کوي .

- حکومت او نړیواله ټولنه بر سیره پردې چې له اداري فساد سره مبارزه کوي باید ډېره هڅه وکړي چې له فساد سره د مبارزې په برخه کې خپل موقف ثابت کړي او عامو خلکو ته دا پیغام ورسوي چې دوی په رښتیا له فساد سره مبارزه کوي . افغانان اړتیا لري چې د فساد پر وړاندې د حکومت او نړیوالې ټولنې د عزم او دریدو په څرنګوالي پوه شي .

- د فساد په اړه د افغانستان د روڼتیا د څار ټولنه د خپلو څیړنو او د محاکمو د څارنې د کړنو پر اساس داسې ویلای شي چې معلوماتو ته لاس رسی د فساد سره د مبارزې په وړاندې مهم ګام دی  . نو د همدې لپاره افغان حکومت باید د خپلو خلکو لپاره یو داسې قانوني بنسټ را منځ ته کړي چې معلوماتو ته ددوی لاس رسی اسانه شي ،لکه چې د افغانستان د اساسي قانون په ۵۰ ماده کې یې سپارښتنه شوې . دواړه مدني ټولنې او حکومت معلوماتو ته د لاس رسي د حق لرلو په اړه د عامه پوهاوي کچه باید لوړه کړي .